مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر

۲۰۲۰/۰۷/۲۳

# ماحول

د زړه په سترګو یو بینا، نه وینم
هم په دردونو، یو آشنا نه وینم

چې بیا په چغو ، واویلا کړي محفل
د صاحبدل ، هغه وینا نه وینم

دین او ضمیر یې شو، په څو پیسو خرڅ
د چا په سترګو کې ، حیا نه وینم

د رنځ علاج ته، په حیرت پاتې یو
ځکه دردونو ته ، دوا نه وینم

له صورتونو ځیني ، غم وریږي
د چا په شوندو کې ، مسکا نه وینم

ماحول تر اوسه ، لا تیاره پاتې دی
د معرفت دلته ، رڼا نه وینم

چې مونږ ته روح ، د معنویاتو راکړي
دي چاپیریال کې ، یو دانا نه وینم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ